**بسم الله الرحمن الرحیم**

## احکامو ته په پابندۍ کې بیړه

**(ژباړه)**

د صحیح بخاري د شرحې، فتح الباري . چې د حجر عسقلاني اثر دی- په «من أحب تعجیل الصدقة من یومها» باب کې په لږ تصرف سره راغلي:

له عقبه بن حارث رضی الله عنه څخه روایت دی چې ویلي یې دي: د مازدیګر لمونځ مو په مدینه منوره کې په رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې وکړ. هغه صلی الله علیه وسلم د سلام تر ګرځولو وروسته په بیړه جګ شو، له خلکو تېر شو او د خپلې یوې مېرمنې کور ته ورغی. خلک د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغې بیړې حیران او اندېښمن کړل. شېبه وروسته چې راوګرځېد او ویې لیدل چې خلک اندېښمن شوي، ویې فرمایل:

**«كنْتُ خلَّفْتُ فِي الْبيتِ تِبراً من الصَّدقةِ، فكرِهْتُ أنْ أُبَيِّتَه، فَقَسّمتهُ»**

**ژباړه:** *د صدقې د سروزو یوه ټوټه مې په کور کې ایښې وه او نه مې غوښتل چې د شپې یې په کور کې وساتم، نو ومې وېشله.*

زموږ د خواږه پیغمبر صلی الله علیه وسلم دغه حالت (چې یو نه ادا کړی مسولیت ور له  غاړې و) د اوسني عصر د ډېرو مسلمانانو وضعیت ته ورته دی. په دغه پېښه کې، چې د مسولیت منل او د پاتې صدقې په اړه د الله سبحانه وتعالی له پوښتنې څخه وېره ښيي؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم د لمانځه تر ادا کولو وروسته ژر کور ته ځي چې د خیر کار او خپله دنده ترسره کړي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه عمل په ډېره ګټوره توګه خلک د الهی احکامو او قوانینو پیروۍ ته هڅوي. صحابه‌وو رضوان الله علیهم رسول الله صلی الله علیه وسلم ولید او پوښتنې ورسره پیدا شوې: داسې څه وو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې له لمانځه وروسته دومره ژر کور ته تګ ته اړ کړ؟ له شک پرته، هغوی پوهېدل چې دا عمل یې مهم دلیل لري. رسول الله صلی الله علیه وسلم بیرته راوګرځېد او هغوی یې نه یوازې د خپل کار پر دلیل خبر کړل؛ بلکې موږ یې هم پر مهم امر خبر کړو چې په اړه یې فکر ډېر مهم دی.

اې رسول الله، اې د عدالت پیغمبره، پلار او مور مې له تا قربان! نن ورځ چې د خاینو او ذلیلو حکامو ظلم وینو، څنګه پر دغه ستر عمل پوهېدلی او تفیسرولی شو؟ څنګه پر دغه عمل او عدالت پوهېدلی شو؛ په داسې حال کې چې هر ځای سترګې اړوو، ظلم او تیارې وینو او درد او رنځ مو تر سترګو کېږي!؟ حکام وینو چې د کفر د قوانینو پر اساس حکومت کوي؛ هر مسلمان چې «ربي الله» وايي، هغوی هم تر ظلم او شکنجو لاندې وینو. د اوسنیو حکامو نیت د مسلمانانو چارو ته رسېدنه او د احکامو پلي کول نه دي.

نو اې د امت علماوو، تاسو چېرته يئ! ولې د رسول الله صلی الله عليه وسلم له عمل څخه عبرت نه اخلئ او ځانته يې نه الګو کوئ!؟ اې هغو کسانو چې ادعا کوئ «وليّ الامر» يئ، اوس چې د ځمکې په يوه برخه کې هم د اسلام احکام نه پلي کېږي، تاسو چېرته يئ!؟ ايا هغو کسانو ته د مرګ او لعنت هيله نه لرئ چې ظلم يې کړی او پر مسلمانانو ظلم او شکنجه کوي!؟

اې ربه! موږ د نبوت پر منهج راشده خلافت دولت ته ورسوه چې په واسطه يې د مسلمانانو ترمنځ تفرقه ورکه او مصيبتونه يې لرې شي. اې ربه! ځمکه په خپل کريم نور روښانه کړه. اللهم آمين آمين!

**ژباړه: بهير «ويار»**